SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارګان
پنځم کال ۹۲ ګڼه پرله پسي (۳۷۹) سه شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال درمضان المبارک (۱٦)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لیندی دمیاشتي (۲۲) د۲۰۰۰میلادي کال د دسمبر (۱۲)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه چې هغه (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

محترم قاضي القضات امارت اسلامي افغانستان :

قضات محاكم باید در اجراات شان از جرئت و قاطعیت کار بگیرند

شوراي عالي ستره محكمه تحت رياست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئیس ستره محكمه ۱.۱.۱ ديروز در مقر ستره محكمه داير گرديد.

ابتدا آيات چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد.

بعداً محترم قاضي القضات و رئیس ستره محكمه روی موضوعات و مسايل قضايي كشور صحبت همه جانبه نمودند و در بخشي از سخنان عالمانه خویش فرمودند : خداوند «ج» كه نعمت بزرگ علم را براي علما نصیب گردانیده است به همان اندازه مسوليت شان نیز بیشتر میباشد قضا كه در شرع یك عمل مهم است اگر یك عالم كه اهلیت قضا را داشته باشد و در همین دور حاضر كه در وطن عزیز ما زمینه قضا عادلانه خوبتر مساعد میباشد ، بوظیفه قضاء دعوت شود باید آن را قبول نماید حتي در جامع الفصولین و معین الحکام و دیگر کتب فقه ذکر شده که اگر در یك محیط و یا علاقه تنها یك شخص ص ۴

در چغچران :

سنگ تهداب یك محراب مسجد گذاشته شد

چغچران - باختر :
سنگ تهداب یك محراب مسجد دیروز در ساحه ماستر پلان شهر چغچران توسط محترم مولوي عبدالرحمن حقاني والي ولايت غور گذاشته شد.

در اجتماعي كه بدین مناسبت ترتیب یافته بود محترم مولوي دین محمد رئیس محكمه مرافعه محترم ملا عبدالمنان ابوبي ځارنوال، محترم ملا جمعه گل اخند زاده مستوفي محترم ص ۴

د آریانا خبری آژانس د رپوټ له مخی :

روسی ماهرین د مخالفینو په نظامی روزنه

بوخت دي

روسی او تاجکی متخصصین په ګډه دا کار پر مخ بیایی

په بدخشان کی همدا اوس ۱۲۰۰ تنه جګړه ماران تر پوځی روزنی لاندی نیول شوی دی

شریعت : په پېښور کی خپرېدونکی سهار ورځپاڼه د آریانا خبری آژانس په حواله لیکی چی د جمعیت د باوری سرچینو له خوا دوی ته د بدخشان په ولایت کی د روسی او تاجکی کار پوهانو له خوا د یو زیات شمېر کسانو د نظامی روزنی خبر ورکړ شوی دی.

په رپوټ کی راغلی چی د بدخشان ولایت د شغنان او اشکاشم په سیمو کی همدا اوس نېږدی یو زرو دوه سوه تنه جګړه ماران تر پوځی روزنی لاندی نیول شوی او ډېر ژر به دا شمېره تر اتلس سوه تنو پوری لوړه شي.

خبر زیاتوی چی نظامی روزنځایونو ته د جګړه مارانو د شمولیت لړۍ لا هم روانه ده.

د یادونې وړ ده چې د روسانو له خوا په دی وروستیو وختو کی مخالفینو ته یو ... زیاته اندازه وسلې او جنګی مهمات هم را رسیدلی چی په روسی مطبوعاتو کی یې را پورونه په ډاګه خپاره شوی دي دغه رپوټونه د ریاني له خوا هم تایید شویدي .

د ریاست الوزراء محترم اقتصادی مرستیال له اریک دهمول سره وکتل

کابل - باختر :
د ریاست الوزرا اقتصادی مرستیال د ختیځ زون تنظیمیه رئیس او د ننګرهار والی محترم مولوی عبدالکبیر پرون په ختیځ زون کی د ملګرو ملتو د سازمان دبشری مرستو د تنظیم له مسول ۴ مخ

د جوزجان ولایت اداری چاری د یوی غونډی په ترځ کی وڅېړل شوی

جوزجان - باختر :
د جوزجان ولایت د امارتی دایرو د رئیسانو او مسولینو غونډه پرون ددغه ولایت په مقر کی جوړه شوه .
په غونډه کی چی د ۴ مخ

د فلسطینی مجاهدینو او صهیونستی ځواکونو ترمنځ نښتی دوام لری

د فلسطینی اعتراض کوونکو او صهیونیستی پوځیانو تر منځ پرون هم نښتو دوام درلود.
۴ مخ

د کرزی او ملاداد ی محترم وزیر په کابل کی د پاکستان له سفیر سره وکتل

کابل - باختر :
د کرزی او ملاداد [illegible]
ملا عبداللطیف منصور [illegible] وکتل.
کابل په دفتر کی [illegible] په دی کتنه کی د ... [illegible]
د ... اسلامی جمهوریت [illegible] پاکستان د اسلامی جمهوریت محترم سفیر د ... [illegible] ۴ مخ

د پکتیکا ولایت

د علما کرامو شوری غونډه وکړه

د پکتیکا ولایت د سپین ږیرو او علمای کرامو شورا پرون جوړه شوه .
ددغی شورا په پیل ۴ مخ

د جنوبی کوریا جمهور رئیس ؛

د نوبل د سولې جایزه وګټله

د جنوبی کوریا جمهور رئیس کیم دای جونګ د نوبل د سولی جایزه تر لاسه کړه دغه جایزه د بشر د حقوقو د حالت د ښه والی او په تېره بیا د شمالی کوریا او ۴ مخ

د پاکستان دولت ددغه هیواد د مخلوع صدراعظم نواز شریف شتمنی مصادره کړه

نواز شریف له زندان څخه له آزادېدو وروسته سعودی عربستان ته تبعید کړای شو .
د خبری سرچینو د خبر له مخی د نواز شریف شتمنی ملیونونو ډالرو ته رسیده چی دده له تبعید وروسته مصادره شوی ده د پاکستان پخوانی صدراعظم نواز شریف د تېر کال د اکتوبر په میاشت کی کودتا په ... [illegible] لخوا ... [illegible] ته تبعید شویدی

دامریکا فضایی بېړی له فضایی ماموریت نه وروسته ځمکی ته راستنه شوه

د امریکا د ایندی اور فضایی بېړی د یوه مهم هوایی ماموریت په پای کی ځمکی ته ستنه شوه او ټاکل شوی ۴ مخ

د ملکی هوایی چلند او توریزم وزارت د مخابروی پرسونل لپاره :

د کابل په هوایی ډګر کی یو کمپیوتری کورس پرانستل شو

کابل - باختر :
د ملکی هوایی چلند او توریزم وزارت د مخابروی کارکوونکو لپاره د کابل په هوایی ډګر کی کمپیوتری تعلیمی کورس جوړ شو .
۴ مخ

کمیسیون بررسي تصدیها تشکیل جلسه داد

کابل - باختر :
کمیسیون بررسي تصدیها دیروز تشکیل جلسه داد .
در جلسه کمیسیون بررسي تصدیها كه تحت ریاست محترم مولوي عزت الله حقاني معین وزارت پلان و به اشتراك محترم ص ۴

سوریې په نورو عربی ملکونو باندی د فلسطینیانو له غورځنګ سره د نه ملاتړ له امله تور ولګاوه

سوریې په نورو عربی ملکونو باندی د فلسطینیانو له غورځنګ سره د نه ملاتړ له امله تور ولګاوه
نړیوالی خبری منابع - باختر :
د سوریې د بهرنیو چارو وزیر فاروق الشرع په دمشق کی د عربی هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو د دوه ورځنی کنفرانس په پیل کی وویل : تر هغه وخته پوری چی د ۴ مخ

موسسه لجنة الدعوة الاسلامیه به مستحقین کابل مساعدت نمود

به ارزش سه هزار و هشتصد و بیست و هشت ملیون افغاني مواد خوراکه از طرف موسسه خیریه لجنة الدعوة الاسلامیه براي مستحقین در شهر کابل توزیع گردیده است .
ص ۴

یوګوسلاویا د نړیوال وجهی صندوق د عضویت شرایط برابر کړیدی

یوګوسلاویا د نړیوال وجهی صندوق د غړیتوب د تر لاسه کولو لپاره ټول لازم شرایط برابر کړیدی.
د یوګوسلاویا د مرکزی بانک د رئیس په خبره چاپی دغه هیواد د روان میلادی کال له پایته رسیدو مخکی ددغه صندوق غړیتوب تر لاسه کړی.
۴ مخ

د ترانسپورت عمومی ریس محترم مولوی عبدالعزیز «نصیر» له «شریعت» سره په مرکه کی :

د روان کال په بهیر کی د خصوصی سکتور له ترانسپورت څخه ٤١ ملیارده افغانی عواید تر لاسه شوی دی

شریعت : قدرمنو لوستونکوا ستاسی پام د هغی مرکی لوستلو ته راګرځوو چی زمونږ خبریال د ترانسپورت له عمومی رئیس محترم مولوی عبدالعزیز «نصیر» سره کړی ده .

په پیل کی محترم مولوی نصیر داسی وویل : د ترانسپورت نوبه اداره د افغانستان د اسلامی امارت په چوکاټ کی له مهمو اقتصادی ادارو څخه ګڼل کیږی چی شپه او ورځ د هیوادوالو د خدمت لپاره په مرکز او ولایاتو کی په خدمت بوخته او د مسافرینو او د هغوی د مالونو د انتقال چاری تر سره کوی.

«» د شخصی اتحادیو په باب وویل : مونږ شخصی اتحادیی رنګی کړی ده دی پلکی هغو موټر لرونکو او موټر چلونکو ته چی پخوا څه نا څه ستونزی پیښی شوی وی هغوی موټر ته خپلی عریضی وړاندی کړی او په دی توګه مونږ دغه شخصی اتحادیی په آزادو اتحادیو واړولی ، ځرنګه چی پخوا ددغو اتحادیو عواید شخصی جیبونو ته لوېدل او س دغه عواید ټول په منظم ډول بانک ته تحویلیږی او د امارت د مقام د فرمان په اساس د شهیدانو او معلولینو کورنیو ته د مرستی په ډول ویشل کیږی .

دی زیاتوی چی اوس د هیواد په ټولو ولایاتو کی آزاد ترانسپورت د موټر لرونکو په غوښتنه په
ص ۴

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

دملګرو ملتو نا پیلتوب ډاډمن نه دی

داسی ښکاری چی امنیت شوری په افغانستان باندی نورو بندیزونو لګولو ته ځان جوړوی، خو ځرنګه چی دا هڅونی او لمسونی ټولی د روس او امریکی له خوا تر سره کیږی نو ځکه زیاتره خپلواک څېړونکی په دی نظر دی چی نور ددغی اداری په ناپلوی څه باور نه شي کیدای . د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په دی اړه ډېر مناسب دریځ غوره کړی او څرګنده کړی یې ده چی په افغانستان باندی نور یو اړخیز بندیزونه لګول د ملګرو ملتو
۲ مخ

I.L.0

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دبوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کې (۳) کلداری

پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸٥۹

جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

بې طرفي ختموي نو ځکه مونږ ته په کار ده چې له مخالفینو سره د دوی په منځګړتوب د خبرو اترو لړۍ غوڅه او له کومې بلې لارې د سول بهیر په مخ بوځو. په دې کې شک نشته چې د ملګرو ملتو اداره په اصل کې د نړیوالو کشالو د هوارولو لپاره جوړه شوې ده او باید تل یې خپل ناپیلي حیثیت ساتلي وای خو له بده مرغه اوس د لویو طاقتونو تر دباو لاندې راغلې او بوازې د هغوی د ګټو ساتنه کوي، چې دا دې ورو-ورو د نړۍ د نورو خپلواکو ولسونو په منځ کې خپل اعتبار بایلي او ځایې ډېر ژر په څو محدودو هیوادو پورې وتړل شي. د یادونې وړ ده چې ملګرو ملتو ان لا هغه مهال خپله بې طرفي شکمنه کړې ده چې د رباني تش په نامه اداره یې د افغانستان د قانوني حکومت په توګه په رسمیت پیژندلې او بر خلاف اسلامي امارت چې هم د افغانستان په ځمکه واکمن دی او هم د ملت له پراخ ملاتړ نه برخمن دی، د دوی له بندیزونو سره مخامخ دی، اوس چې نوموړې اداره پر اسلامي امارت باندې نوریو اړخیز بندیزونه لګوي او مخالفین لا هم جنګ جګړې ته لمسوي، دا په حقیقت کې له افغان ولس سره لویه جفا او په کورنیو چارو کې یې ښکاره لاس وهنه ده، خو د افغانستان مېړني او دینداره ولس به هیڅکله هم دغسې فشارونو ته سر ټیټ نه کړي او د خپل سر په قرباني به د هیواد د خپلواکې او اصولي تګلارې ساتنه وکړي، دا چې امریکا تل هڅه کوي د خپلې ځاني کینې او حسد په اساس په اسلامي هیوادو بیلا بیل بندیزونه ولګوي او بیا هغو ته د ملګرو ملتو د فیصلو پوښ ورکړي ، اسلامي نړۍ دې ته اړ باسي چې له هغوی سره د معاملې او سوداګرۍ په هکله له سره کتنه او ښایي د اسلامي علماو له خوا په دې اړوند شرعي فتواوې صادرې او له یو دغه شان معاند هیواد سره د دوستۍ او ملګرتیا باره کې د اسلامي احکامو څرګندونه وکړي، ځکه اسلامي نړۍ اوس د سر په سترګو وینې چې امریکا د یهودي غاصب رژیم په لاس د بې ګناه فلسطیني ولس د عام وژنې ننداره او ملاتړ کوي د عراق په مظلوم ولس هره ورځ بمباري او بندیزونه لګوي په اندونیزیا کې عیسایي اقلیت لمسوي او دا دې د افغانستان مجاهد ولس د یو شرعي نظام د پلي کولو په جرم د سختو اقتصادي بندیزونو په محاصره کې راګیروي، چې بیا دغو ټولو ظالمانه اقداماتو ته د ملګرو ملتو له خوا د جواز نوم هم ورکوي، نو په دغسې حالاتو کې هیڅوک دا نه شي منلای چې ملګري ملتونه دي بیا هم یوه ناپیلې اداره وي او له همدې کبله د روانو جریاناتو په وړاندې د افغانستان د اسلامي امارت دریځ ښځې په واقعیت او سمو اصولو ولاړ او همدغه د ټول افغان ولس بوازني دریځ دی.

افغانستان، مرکز عمده تجارت جهاني دنیاي قدیم
یا اداره کننده‌ء راه ابریشم

استاد گل احمد «یما»

اخیراً یونسکو (سازمان علمي، فرهنگي و تربیتي ملل متحد) ، پروگرام رادیویي را جهت تنویر اذهان مردم ازبکستان آغاز کرده و به دست نشر مي سپارد که به قول رادیوي بي بي سي (پروگرام آسیاي میانه) به شکل سریال «خانه نو، زندگي نو» که از طریق بي بي سي در پشاور تهیه گردیده و مسئولیت آنرا جان بارت به عهده دارد.

به این پروگرام رادیویي که به شکل سریال براي مردم ازبکستان پخش میگردد نام «راه ابریشم» گذاشته شده است اینکه ، آقاي جان بارت مسؤول پروگرام مذکور تعیین گردیده است خود میرساند که این پروگرام، وظیفه یي را در ازبکستان به عهده خواهد داشت که «خانه نو، زندگي نو» براي مردم افغانستان به عهده گرفته بود .

اقاي جان بارت در مصاحبه یي با بي بي سي اظهار داشت که محدودیتهایي که در پشاور موجود بود، در ازبکستان براي تهیه پروگرام موجود نیست ، بناءً وي میتواند در یك فضاي باز تر فعالیتهاي رادیویي خود را انجام دهد.

فرق که «خانه» نو ، زنده گي نو» با پروگرام « راه ابریشم» دارد اینست که پروگرام «خانه» نو، زندگي نو» در پشاور تهیه میگردد و از طریق رادیو بي بي سي نشر میشود، در حالي که پروگرام راه ابریشم در ازبکستان تهیه میگردد و از طریق رادیوي ازبکستان پخش میگردد طبعاً در تهیه آن، دولت ازبکستان مستقیماً نقش دارد، درٌ حالي که در تهیه «خانه» نو، زندگي نو» افغانستان هیچ گونه نقشي ندارد، چه در یك محیط بیروني و از طریق یك رادیوي بیروني نشر میشود.

در «خانه» نو، زندگي نو» ابتکار به دست مسؤولین رادیوي بي بي سي است رادیوي یك کشور خاص یعني بریتانیا، در حالیکه پروگرام «راه ابریشم» از طرف یونسکو به همکاري رادیوي ازبکستان در ازبکستان و براي مردم ازبکستان تهیه میگردد، یعني یك مرجع مسؤول بین المللي با مسؤولین یك کشور که آن کشور عضویت آن موسسه «یونسکو» را دارد، یکجا به تهیه یك پروگرام براي مردم آن کشور همکاري مي کنند..

در صورتیکه که برنامه، «خانه» نو، زندگي نو» در داخل افغانستان از طریق رادیو صداي شریعت افغانستان تهیه گردد و همانند «راه ابریشم» تنظیم آن به همکاري یونسکو صورت بگیرد، طبعاً نواقصي که در آن وجود دارد و ما در طي مقاله یي (جریده، شریعت، شماره مسلسل ۱٤۷«فقر ایدیولوژي سیاستگزاران بي بي سي و مسأله آزادي تعلیم و تربیه» به آن اشاره نموده بودیم، از میان خواهد رفت . اما آنچه در پروگرام رادیویي براي ازبکستان از نظر کشور ما اهمیت دارد، همانا نام «راه ابریشم» است که براي این پروگرام برگزیده شده است .

امکان دادر این نام تصادفي انتخاب شده باشد یا از آن یك مفهوم شاعرانه و ادیبانه را در نظر داشته باشند، ولي این نام براي اهل علم، مخصوصاً براي کارکنان سازمان یونسکو ، یك مفهوم خاصي دارد که با تاریخ قدیم کشور ما، مخصوصاً دوره، کوشانیها مرتبط است .

از زمان باستان، مردم چین و کشور هاي شرق آسیا از طریق افغانستان با کشور هاي عربي و کشور هاي اروپایي به داد و ستد اموال تجارتي مي پرداختند، و این داد و ستد که در دوره هاي مختلف ، بنا بر نیازمندیهاي جوامع مختلف، اقلام مختلف، اموال تجارتي را شامل میشد از زمان سکندر مقد وني(قرن چهارم ق. م) با ورود ابریشم چین از افغانستان به اروپا باعث گردید تا مردم اروپا از طریق کشور ما با ابریشم آشنایي پیدا کنند و به تدریج به استفاده از آن بپردازند، این استفاده سبب شد تا در قرون بعدي باعث انکشاف تجارت ابریشم میان چین و اروپا از طریق افغانستان گردد.

انکشاف تجارت ابریشم مخصوصاً در دوره اقتدار کوشانیها (قرون اول میلاي) موجب این شد تا کاروانها ي بزرگ ابریشم از چین از طریق افغانستان به اروپا برود و اموال اروپایي به چین وارد شود.

همین امر باعث شد که راه تجارتي میان چین و اروپا که از طریق افغانستان اداره میشد به نام راه ابریشم خوانده شود.

باید گفت وقتي که ما از راه تجارتي ابریشم میگوییم باید از اداره، آن نیز یاد آوري نمایيم و آنرا در ارتباط به راه تجارتي مطرح کنیم و براي فهم آن لازمست تا آنرا با وضع تجارت در زمان حاضر مقایسه و مقارنه نمایيم.

در زمان حاضر، مثلاً دوبي یك مرکز تجارتي است که اموال شرق و غرب در آن جا با هم مبادله میشود و طبعاً از دوبي به مناطق مختلف راه هاي مشخص وجود دارد، و با سنگاپور و هانگ کانگ در شرق دور مي توانند مراکز در جهان امروز محسوب گردند که راه هاي مختلف شرق و غرب در آن جا منتهي میگردند. واردات و صادرات کشور هاي مختلف از طریق این مراکز امکان پذیر میگردد و طبعاً این مراکز بر اداره، تجارت ، ترانزیت و ترانسپورت نقش اساسي دارند.

به هر حال، در قرون اولیه میلادي که دولت کوشانیها در افغانستان به اوج خود رسیده بود، تجارت با چین مخصوصاً تجارت ابریشم از طریق (بلخ) تنظیم و اداره میگردید البته (بلخ) در طول تاریخ همواره یك مرکز مهم اداري، نظامي، سیاسي و تجارتي بوده است .

«بلیکا» یا (بلخ) که از زمان پیشدادیان (توسط«جمشید» یا «یما») به عنوان نخستین شهر دنیاي قدیم اساس گذاري شده است، در دوره، کوشانیها، مخصوصاً دوره کنیشکا یك مرکز مهم تجارتي محسوب میگردید که اداره، تجارت جهاني میان شرق و غرب از آن طریق صورت میگرفت .

در حقیقت، افغانستان دوره کوشانیها و مخصوصاً بلخ در دوره مذکور اهمیت ویژه یي کسب کرده بود.

از بلخ یك راه به سوي بخارا میرفت، و از بخارا به کاشغر و از کاشغر به پکن و همچنان راه دیگري از طریق بدخشان به یارقند یا یارکند و از طریق صحراي کوبي به پکن منتهي میشد.

راه دیگري، از بلخ به سوي کابل و هند میرفت، و راه چهارم از طریق هرات به فارس و کشور هاي عربي (بغداد و شام) منتهي میشد.

یك راه دیگر از طریق مرو و رود آمو به جهیل ارال، بحیره خزر بحیره سیاه به اروپا منتهي میشد و یا از طریق ترکیه و یا رود دانیوب داخل اروپا مي گردید.

با در نظر داشت اینکه سفر در دنیاي قدیم تا چه اندازه مشکل بوده و چقدر به تامین امنیت ضرورت داشته است نقش اداره افغانستان در تجارت جهان دنیاي قدیم خیلي پر اهمیت و برجسته میشود.

به همین جهت است که پنجاه سال بعد از حمله چنگیز به کشور ما هنگامي که مارکوپولو سیاح ایتالوي به چین میرود، با شوق و شعف زاید الوصف تأمین امنیت و سهولتهایي که در افغانستان قدیم براي تجارت جهاني وجود دارد سخن میگوید .

متاسفانه در دوره هایي که اموال و امتعه اروپایي و امریکایي جاي اموال افغاني و چیني را گرفت، بنا بر وضع نا مطلوبي که در سیستم تجارتي جهاني استیلا یافت، افغانستان آن موقعیت تاریخي خویش را از دست داد .

ص ۳

د روژې څېنې فقهي حکمونه ۴

عبدالرحیم «ثاقب»

د روژې ماتوونکي

د روژې ماتوونکي دوه ډوله دي :

۱- هغه چې روژه ماتوي او یوازې قضا پر سړي لازمیږي .

۲- هغه چې روژه ماتوي او پر دې برسېره کفاره هم پر سړي لازمیږي

هغه څه چې د روژې د ماتوالي (فساد) موجب ګرځي او کفاره نه لازموي هغه د داسې شي خوړل دي چې هغه نه غذا وي او نه دوا . لکه د خاورو، تیګو، وسپنې کاغذ، وچ پوستکي او یا د همدې شیانو په څېر د نورو داسې موادو خوړل چې تغذي نه ورباندې راځي د پورتنیو ذکر شویو موادو د خوړلو په صورت کې یوازې روژه ماتیږي او په روژه نیوونکي باندې فقط د هماغې یوې ورځې روژې قضایي لازمیږي.

او هغه څه چې هم د روژې د ماتوالي او هم کفارې سبب ګرځي هغه دا دي چې په قصد سره روغ او هوښیار روژه دار داسې څه وخوري چې په هغه باندې تغذي حاصلیږي یا او یه وځښې یا دوا وخوري همدارنګه که څوک هغه څه وخوري یا یې وڅکوي چې ورباندې معتاد وي لکه سګرټ، چلمېنسوار، چرس، افیم او داسې نور .

همدارنګه که څوک په قصدي توګه له اکراه پرته په خپل شهوت په بشپړه توګه تر سره کړي یعنې جماع وکړي هغه که د فرج له لارې وي او که (دبر) په دې صورت کې د فاعل او مفعول دواړو روژه ماته او کفاره ورباندې لازمه ده .

د روژې نه ماتوونکي

هغه څه چې روژه نه ماتوي په لنډه توګه داسې تشریح کیږي :

۱- په هېره سره د څه شي خوړل، څښل او یا جماع کول.

د عطرونو، مشکو او خوشبویو شیانو بویول.

۳- د پوزې د افرازاتو (اوبو) تیریدل که څه هم په قصد سره وي.

٤- په کتلو یا فکر کولو سره د منې انزال کیدل .

٥- ستونې ته د ګرد ، دود ، یا دواګانو بوې تیریدل په داسې توګه چې د روژه لرونکي د ارادې هیڅ خل پکې نه وي .

٦- د هغه لې بیرته تیرول چې له معدې نه په غیر قصدي توګه راپورته شي او په ډکه خوله نه وي .

۷- د غاښ ایستل په داسې صورت چې وینه او دوا تري ستونې ته تیره نشي.

۸- د سترګو کې د قطرې او رنجو استعمالول.

۹- د غسل په مهال په غوږونو باندې د اوبو ننوتل.

۱۰- استنشاق او مضمضه کول . خو په دې صورت چې ډېر زیاتې پکې ونشي.

د روژې کفاره :

کله چې یو روژه لرونکې د روژې په میاشت کې بې له شرعي ضرورته په قصدي توګه روژه وخوري او یا جماع وکړي نو په هغه باندې .ددې ناروا عمل په مقابل کې کفاره لازمیږي

د کفارې حکم :

په قصدي توګه له شرعي ضرورت نه پرته د رمضان د میاشتې د روژې خوړلو کفاره فرض ده .

د کفارې ډولونه :

کفاره په درې قسمه ده .

۱- د یوه مریې آزادول.

۲- دوه میاشتې پر له پسې روژه نیول. ۳-و۶۰ تنو مسکینانو ته ډوډۍ ورکول.

د جمهورو علماو په نزد لومړی باید د امکان په صورت کې د رمضان د یوې ورځې روژې خوړلو په مقابل کې یو مریی آزاد کړي که یې ددې توان نه درلود نو باید دوه میاشتې پر له پسې روژه ونیسي او که یې ددې توان هم نه درلود بیا به ٦۰ تنو مسکینانو ته په ډک نس د هغې ورځې معموله د سهار او ماښام ډوډۍ ورکوي.

متصدي صفحه : محمد رفیق "عزت"

د شعر او ادب نړی

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

چشم بر راه

میرسد آنکه به تن روح دگر می ریزد — بر دل و دیده ما نورو نظر می ریزد
می رسد غرق تجلی ز سراپرده، نور — بر گریبان شب تیره سحر می ریزد
تا که فریاد برائت بدهد سر به سپهر — هر چه دارد ز هبل نقش و اثر می ریزد
ذوالفقاري حسبي بر کف او شمشیر است — کز دمش در صف پیکار ظفر می ریزد
اهتزاز علمش تا که نمایان گردد — از کف دشمن او تیغ و سپر می ریزد
مرهمي بر دل صد پاره، این خاك نهد — کز عطش شعله، آتش ز جگر می ریزد
گام او آتش نمرود گلستان سازد — بر سر بتگر و بتخانه تبر می ریزد
هیبتي داده به تکبیر مسلمان یزدان — کز طنینش ز بر کوه کمر می ریزد
ترس از این معرکه در شأن مسلمان نبود — با تو هست آنکه ترا طرح قدر می ریزد
در فضایي که ترا عرصه، جولان دادند
پر پرواز عقابان به گذر می ریزد

مژده

دشپې وروستۍ پار

د فلسطین د یوه شهید گمنام شاعر

پښتو ژباړه : پیر محمد «کاروان»

لیه اووده شه
چی بندیوان دی
انجام ته بوځی
وروستی سندره
وروستی سندره
* * *
شپی پښه پر ځای شه
سبا را لنډ دی
چی سبا را شی
ستا بندیوان به
د دار له سره

را اویزان کړی
لکه منصور به
د باد شغ شغ کی
درته شروع کړی
د مرگ نڅاوی
به شپی سبا به
ځلانده مینه
د بندیوان دی
شی ډیره تنه
* * *
به شپی سبا به

دا دروغجن او
دا ښځنو کی
راغورځوینه
ها دنگه ونه
د بندیوان دی
* * *
به شپی اووده شه
لیه اووده شه
پریږده حسرت می
تا کی جاری کړم
ښایی ستا هیر یم
چی دا ژه ځوک یم
ښایی ارمان دی
زما هیر کړی
ښایی په درد کی
ښایی په غم کی

دی یم له یاده
ځنی وتلی
* * *
شپی ته خو وینی
چی ستا په لاس می
د عمر پانه
پسی زیږیږی
پسی رژیږی
* * *
شپی گوره پام چی !
گومان ونه کړی
چی زه ژړن یم
یا می له داره
سترگی لمدی دی
چی می له سترگو
د غم سیندو کی

د گریوان ډېتی
ته ښکته درومی
د وطن یاد وی
داسیند چی وینی
زما د ورو
زما د تړو او یتیمانو
خوارو بچیانو
په یاد بهیږی
* * *
دوی خو په کور کی
ډیر ووی تږی
سترگی په لار دی
تر مانه وروسته
به ځوک ډوډی هم
دوی ته راتَه وړی
* * *

شپی ! زه چی ژاړم
ها دوو غونچو ته
ها دوو زلمو ته
ورونو خوږو ته
چی زما په وړاندی
بی پاس له داره
را اویزان کړل
زما میرمن به
په غم لړلی
سبا درنه ورغ
پر اوږو ځنگه
ماښام ته یوسی !؟
وای وای پر ما شه
وای وای پر دی شه
وای وای زمونږه
پریتیمانو

دوی ته می هیڅ هم
پر ایښی نه د ی
ورځی او شپی به
پرڅه کړی تیری؟
ما د میرمنی
بنگړی د سرو او
پایزیب د سپینو
بازار کی خرڅ کړل
جهاد لپاره
توره ټوپک می
وو پری اخیستی
ځکه چی جنگ ته
د وطن جنگ ته
وسله په کار وه
وسله په کاروه .
****

افغانستان، مرکز عمده تجارت جهاني ...

یکي از دلایل عمده اینست که متاسفانه در چارسده، اخیر، مفهوم تجارت با مفهوم استعمار پیوند خورده است، و سیستم تجارت بین المللي حتماً رنگي از استعمار گري را با خود داشته است، چنانکه قبل از آنکه استعمار بریتانیا به هندوستان بیاید، کمپني هاي تجارتي انگلیسي و فرانسوي و دیگر اروپائیان با مبلغین مسیحي به آنجا آمدند و زمینه را براي استعمار اروپایي آماده ساختند. به همین شکل در کشور هاي عربي و افریقایي و آسیایي دیگر .

البته در پهلوي اینها، شبه فرهنگ استعماري با شبه مدنیت سرمایه سالاري در کشور هاي شرقي و اسلامي وارد گردید و هرچه اصالت فرهنگ و مدني بود ، از آن جلوگیري صورت گرفت که البته این امر قصه درد ناك طولاني دارد !

کشور ما که همواره به تجارت به عنوان یك رفع نیاز افراد مي نگریسته و اعتقادات دیني و ملي ما تجارت را به عنوان یك فعالیت مهم و در خور توجه میدانسته و همانند دیگر شغلها به آن به عنوان یك شغل شریف میدیده است هنگامي که این شغل شریف با قاچاق اسلحه و پخش عقاید انحرافي و استعماري در هم آمیخت و مقدمه یي براي تسلط استکبار و استعمار غرب قرار یافت و اشتغال به آن با تفرعن و تکبر همراه گردید نمیتوانست به عنوان یك امر شریف به آن نگریسته شود.

روي همین دلیل بود که بعد از فروپاشي دولت تیموریان هرات (عهد رنسانس) ، مبارزه روشانیان ، هوتکیان و ابدالیان علیه جریانهاي استعماري که میخواستند تجارت را با استعمار پیوند بزنند آغاز یافت، و هر قدر که استعمار نزدیکتر میشد، کشور ما اهمیت خود را از نظر تجارت جهاني از دست مي داد، تا اینکه کشوري که در جهان قدیم به عنوان چهار راه فرهنگ و تمدن و مرکز تجارت جهاني محسوب میگردد در جهان معاصر مخصوصاً با مبارزه یي که با استعمار انگلیس و روس انجام داد کاملاً منزوي گردید و اهمیت تجارتي خود را از دست داد .

امروز که افغانستان پس از پیروزي بر استعمار روس دو باره در جهان مطرح گردیده است، علاوه بر دیگر جنبه ها، از نظر تجارت جهاني نیز کشور ما اهمیت خود را در نزد طراحان تجارت جهاني باز یافته است، مخصوصاً که اخیراً کشور چین قرار است به سازمان تجارت جهاني(WTO) پذیرفته شود، و نیز تجارت در جهان امروز میخواهد به عنوان یك وسیله رفع نیاز مردمان، هویت اصلي خود را در کره ما کسب نماید؛ طبعاً افغانستان به عنوان یك مرکز عمده تجارت جهاني دنیاي قدیم و اداره کننده قدیم راه ابریشم در میان محافل کلتوري و تجارتي منجمله یونسکو (یادیس و سازمان تجارت جهاني (سویس) مطرح مي باشد، در چنین یك موقع، وقتي که یك برنامه، رادیویي تحت نام «راه ابریشم» از طریق یونسکو مطرح میگردد، نباید آنرا به تصادف حمل نمود.

این امر، معناي اینرا دارد که «راه ابریشم» دو باره در میان اروپائیان و امریکائیان و چینائیان مطرح شده است، و درین وظیفه مقامات اقتصادي و تجارتي کشور ماست که افغانستان را به عنوان اداره کننده قدیم راه ابریشم یا مرکز تجارت جهاني در دنیاي قدیم مطرح نمایند و با WTO سازمان تجارت جهاني (سویس) در ارتباط قرار بگیرند تا در جهاني که میخواهد تجارت جهاني را با معیار هایي که در تاریخ تجارت کشور باستاني ما و در اسلام مطرح بوده است، دو باره مطرح نمایند افغانستان بنا بر موقعیت ویژه اش ، مقام خود را به عنوان اداره کننده راه ابریشم قدیم یا اداره کننده تجارت میان شرق و غرب و یا مرکز تجارت جهاني در آسیا احراز نماید.

قابل یاد آوریست که تماس با مقامات تجارت جهاني با معیار هاي تجارتي که بازمانده، دوره تجارت به مفهوم استعماري و استکباري است، نمیتواند به صورت درست بر قرار گردد.

باید با معیار هاي اسلامي که تجارت را نوعي از خدمت میداند با سازمان تجارت جهاني WTO تماس گرفت و معیار هاي را که از تجارت و ویل در جهت تحمیق مردم و فعالیتهاي ضد اسلام و پخش عقاید خرافي تحت نام تبلیغ دین مسیحیت و غیره استفاده صورت میگیرد، از خود دور ساخت و از دستگاه هاي تجارتي آنرا زدود و در فعالیتهاي تجارت داخلي خود، تجارت اسلامي و خدمات تجارتي را مبناي نظر و عمل خود قرار داد .

هنگامي که ما بتوانیم تجارت داخلي خود را بر مبناي تجارت اسلامي و خدمات تجارتي سمت بدهیم، به خوبي میتوانیم با سازمان تجارت جهاني WTO ارتباط دو جانبه بر قرار نماییم و به عنوان وارث اداره «راه ابریشم» در جهان معاصر مقام مهم خویش را در تجارت جهاني احراز نماییم.

د مېني ثبوت

نورالهادي «کامران»

د گل په تمه اغزي زه په خپل تټر قبلوم
د یار لپاره د رقیب اغزن نظر قبلوم
د خپل ارمان و خپل منزل ته رسیدو لپاره
تورو تیارو کي د هجران هو لوي سفر قبلوم
په خپل زوگي کي د جانان د مراوو سترگو نظر
ډیر طوفانونه سیلابونه سرپه سر قبلوم
ستا په کوڅه کي زما د مېني د ثبوت په خاطر
بدن په وینو باندي رنگ پرهر پرهر قبلوم
تر څو چي وریږي سپین یرغ په لوړو ځوکو
خود به مزلونه د پامیر او د سپین غر قبلوم

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

داصحابو دژوند پلوشي

۴۵

ای دالله رسوله اله هغه څه چی الله درښودلی راوښیه .

په دغه وخت کی پاک رسول ورڅخه مخ وگرځاوه اوخپل تندی یی تریوکړاودقریشوناستوکسانوته یی مخ کړاوداپه دی منظورچی گوندی هغوی اسلام ومنی .اودهغوی اسلام منل دالله ددین په قوت اودهغه ددعوت په ملاتړی تمام شی ځرنگه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوی له خبروڅخه خلاص شواو وبی غوښتل چی خپل کورته ستون شی په دغه وخت کی الله تعالیٰ دهغه سترگی په بل حالت کړی اوداسی شوچی گوندی کوم شی دهغه سرته رسیدلی دی.

بیاالله تعالیٰ پرهغه باندی دغه آیتونه نازل کړل :

«عبس وتولی أن جاء ه الأعمی ...»

وچولی یی تریوکړاومخ یی وگرځاوه .ددی له امله چی ړوند ورته راغی .اوته څه شی پوه کړی چی هغه به (ستاپه تعلیم له گناهونوڅخه پاک شی .)اویابه پندواخلی اوپند به هغه ته گټه ورسوی .اوهرهغه څوک چی (دهدایت پروانکوی) نوته دهغه (دمسلمانیدلو)قصدکوی اوپرتاباندی چی هغه پاک نشی هیڅ الزام نشته .اوهرڅوک چی تاته (دخیرغوښتنی دپاره)راشی .اوحال داچی هغه (له الله څخه) ویریږی .نوته له هغه څخه مخ گرځوونکی (اودکفاروسره په خبرومشغولیږی).بیاداسی مه کوه بیشکه دا(سورت) پنددی .نوهغه څوک چی غواړی دغه پنددی ومنی .(دغه قرآنی آیتونه)په عزتناکوپاڼوکی لیکل شوی دی)(په قدراوعظمت کی)پورته دی .(اودشیطانانوله رسیدلو اودعیبونوڅخه) پاک کړی شوری دی .په لاسودلیکونکوعزتمنو.نیکوپرښتو.جبریل امین دعبدالله بن ام مکتوم په باب دپاک رسول په زړه باندی شپاړس آیتونه نازل کړل اودغه آیتونه له کومه وخته چی نازل شوی دی تردی ورځی لوستل شوی دی اولاځوچی دغه ځمکه اودهغی اوسیدونکی الله تعالیٰ ته په میراث پاتی کیږی هغه به ولوستل شی .رسول الله صلی الله علیه وسلم له همدی ورځی څخه دعبدالله بن ام مکتوم چی به ورته راغی قدرکاوه اوپخپل مجلس کی به یی خپلی خوانه نږدی کیناوه . او ورڅخه به یی دحال پوښتنه کوله اوحاجت به یی ترسره کاوه .دادتعجب ځای نه دی .آیا دی هماغه نه دی چی داوو اسمانونودپاسه دده په باب دسخت عتاب سره مخامخ شوی دی !؟

کله چی قریش دالهٰی پیغمبراودمؤمنانوپه باب یولاس شول اودغه دحقی لاری خاوندان یی دسختو تکلیفونوسره مخامخ کړل نوالله تعالی خپلوذغومؤمنوبندگانو ته دهجرت اجازه ورکړه .اوبیاعبدالله بن ام مکتوم لومړی شخص ؤ چی خپل هیوادیی پریښود.اوخپل دین سره یی دتیښتی لاره ونیوله اودمصعب بن عمیرسره دپیغمبردملگرولومړنی دوه کسان ؤچی مدینی ته ورسیدل .

اوبیادغه دواړه یثرب ته درسیدلو سره سم دخلکوسره په تماسونو کی شول .اوهغوی ته دقرآن اوددین دچاروپه ښودلوشول .

بیاکله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته هجرت وکړنو عبدالله بن ام مکتوم اوبلال بن رباح یی دمسلمانانودپاره دوه مؤذنان وټاکل څودغه دواړه پنځه وخته دتوحید دکلیمی اعلان وکړی اوخلک خوراښه عمل ته راوبولی .اودنجات په لوریی وهڅوی .

هماغه ؤچی بلال به اذان کاوه .اوابن ام مکتوم به دلمانځه اقامت وایه اویابه کله ابن ام مکتوم اذان وکړاوبلال به اقامت ووایه .

بیادرمضان په مبارکه میاشت کی بلال اوابن ام مکتوم دیوه بل شان خاوندان ؤاوهغه داچی مسلمانانوبه دیوه په اذان سره پیشنمی ته دوینیدلواوابن ام مکتوم به دسهاراذان کاوه .

پاتي لری

د ترانسپورت عمومي رئیس ...

کار بوخت دی . همدارنګه دغه ترانسپورت د اسلامی امارت د مقام د فرمان په اساس د کار کولو اجازه تر لاسه کړی ده .

دی زیاتوری : د ترانسپورت د عمومی ریاست په چوکاټ کښ د کاماز او ملی بس تصدی شاملی او عملاً په کار بوختي دی.

له هغی ورځی نه چی د افغانستان اسلامی امارت د هیواد په ۹۵٪ خاوره خپل تسلط ټینګ کړی دی دغه ترانسپورت هم په مرکز او ولایاتو کی د مسافرینو د لیږدونی چاری او د سوداګری د مالونو په انتقالولو کی شپه او ورځ نه ستړی کیدونکی اقدامات کړی دی .

ده زیاته کړه د ترانسپورت عمومی ریاست په دی وروستیو وختو کی د کابل - پیښور د مسافرینو د انتقالولو لپاره د آزادو اتحادیو په چوکاټ کی د اسیا په نامه یوه ترانزیتی اتحادیه جوړه شوه چی عملاً په کار لګیا او په آینده کی به هم د کابل - کندهار، کندهار - کویټه، کابل- هرات، هرات او ترکمنستان په لیټونو کی ددغو هیوادونو په موافقه هیوادوالو ته د لا غوره خدمت د تر سره کولو په خاطر نوری اتحادیی جوړی کیږو تر څو په دی توګه د خپلو هیوادوالو ستونزی له دی پلوه څه نا څه هواری کړو او په آینده کی به د ایران، ازبکستان او تاجکستان له هیوادونو سره هم د موافقی په صورت کی ورته اقدامات تر سره شی.

په پای کی محترم مولوی عبدالعزیز «نصیر» زیاته کړه : د روان کال په بهیر کی د ترانسپورت د عمومی ریاست عواید ٤۱ ملیارده افغانیو ته رسیدلی دی . چی په منظم ډول په ټاکلی شمیره بانک ته تحویل شویدی .

حمید الله شهنم عالمی

د فلسطیني...

د بیت اللحم او د اردون د سیند د لویدیځو غارو د ښارونو فلسطینیانو د هغو څو تنو فلسطینیانو د ښخولو په مراسمو کی په ګډون سره چی د صهیونیستی پوځیانو په ډزو سره شهیدان شویدی ددغو پوځیانو پر خلاف په اعتراض لاس پوری کړ او په ځینو سیمو کی یی له برغلګرو سره نښتی وکړی.

په عین حال کی د صهیونیستی رژیم اردو د فلسطینیانو په تګ راتګ باندی نوی بندیزونه لګولی دی چی وکولی شی د یهودیانو د استوګنی د سیمو امنیت له پخوا زیات تامین کړی.

د علما کرامو...

کی د پکتیکا والی محترم مولوی عبدالرؤف خدام ددغه ولایت د مرافعه محکمی رئیس محترم مولوی شمس الرحمٰن او د جنوب زون د عالمانو شورا رئیس محترم مولوی محمد نبی د اسلامی امارت د خیر غوښتونکو هدفونو په باب څرګندونی وکړی او د عالیقدر امیر المومنین د فرمانونو د دینی او اخروی ګټو په باره کی اوږدی خبری وکړی د سیمه ییزو ستونزو په لری کولو کی بی د سپین ږیرو او علما کرامو د ښنتیز رول ټینګار وکړ.

په پای کی یو شمیر سپین ږیرو د نورو په نمایندګی خبری وکړی. او په دی برخه کی یی خپل چمتووالی وښود.

در چغچران...

ملا عبدالحکیم حقیار رئیس استخبارات و محترم ملا ساعت گل معاون قوماندانی امنیه آنولایت بالنوبه در مورد اعمار مسلجد و اماکن مقدسه از سوي ا.ا در سراسر کشور صحبت نمودند .

محترم ملا سید محمود آغا شاروال شهر چغچران گفت : این مسجد به شکل پخته و اساسي در ساحه شش جریب و سه بسوه زمین مطابق ماستر پلان سوم شهر چغچران از بودجه ریاست حج و اوقاف اعمار میگردد که گنجایش هشتصد تن نمازگذار را در یك وقت دارا خواهد بود.

رياست الوزرا ...

ښاغلی اریک دیمول سره وکتل.

په دی کتنه کی د ریاست الوزرا محترم اقتصادی مرستیال او د ختیځ زون تنظیمه رئس په ټول هیواد کی د کوکنارو د کرکیلی د بندولو په باب د عالیقدر امیر المومنین د فرمان په اړوند خبری وکړی او څرګنده یی کړه چی ددغه فرمان له مخی د هیواد د نورو سیمو په شان د ختیځ زون په مربوطاتو کی د کوکنارو کرکیله بنده شویده.

ده د ګوشتی ولسوالی د خلکو مشکلات او د اوبو د کمښت له امله د بزګرانو ستونزی هم بیان کړی او ددغی مؤسسی له استازی څخه یی وغوښتل چی د ګوشتی ولسوالی د اوبو د بند او د جلال آباد ښار د اوبو رسولو د شبکی د ترمیمولو په لاره کی له خلکو سره مرسته وکړی.

په مقابل کی ښاغلی اریک دیمول ژمنه وکړه چی طرحه شوی ستونزی او مشکلات به د اداری مرکز ته ولیږدوم.

یوګوسلاویا

د المان غږ راډیو دخبر له مخی په دی لاره کی یعنی په نړیوال وجهی صندوق کی د یوګوسلاویا د غړیتوب په لاره کی یو وروستنی خنډ د یوګوسلاویا د پخوانیو جمهوریتونو د شتمنی ویش و چی په راتلونکي کی به لری شی.

ددغه خبر له مخی د اوسنی یوګوسلاویا کروشیا سلوانیا مقدونی او د بوسنیا د مرکزی بانکونو رئیسان په پام کی لری چی غونډه وکړی او د پخوانی یوګوسلاویا د شتمنی د ویش په باب کار وکړل .

د ملکي هوایي چلند

د هیواد د هوایی ډګرونود هوایی چلند د مخابروی مرکزونو د کارکوونکو د کمپیوټری تعلیماتو د ودی او پراختیا په خاطر د ملکی هوایی چلند او توریزم وزارت د اداری معین محترم ملا هدایت الله ابو تراب لخوا پداسی حال کی چی ددغه وزارت تخنیکی معین محترم انجنیر راز محمد علمی او نور چارواکی هم حاضر و د کابل په هوایی ډګر کی د کمپیوټر روزنیز کورس پرانستل شو .

په دی کورس کی د کابل کندهار ، هرات، مزار شریف او د جلال آباد د هوایی ډګرونو د هوایی چلند د مخابروی مرکزونو کار کوونکو ګډون کړیدی .

د جوزجان ولایت

جوزجان ولایت د مرستیال محترم ملا دوست محمد اخند ددغه ولایت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رئیس محترم مولوی عبید الله ثاقب او د استخباراتو رئیس محترم حافظ حضرت علی په ګډون جوړه شوی وه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د لیږل شوی هیأت رئیس محترم مولوی خواجه محمد او د شمال زون د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رئیس محترم مولوی ګل محمد په هیواد کی د الهی حکمونو او محمدی غرا شریعت د ړره تطبیق، د تقوی پرهیزګاری، د امرینو د اطاعت او فرمان برداری په باب په تفصیل سره خبری وکړی او د اسلامی نظام په وړاندی یی د امارتی مسولینو مکلفیتونو نه او دندی جوتی کړی .

عسکر آقایوف رئیس جمهور دایمي قرغزستان شد

بشکك : عسکر آقایوف بار دیگر بحیث حکمرواي مطلق به کرسي ریاست جمهوري قرغزستان تکیه زد.

وي طي سخنراني بمردمش گفت که او از استقلال و حاکمیت قرغزستان با تمام توان دفاع خواهد کرد آقایوف اخیرا در نتیجه انتخاباتي که کدام رقیب عمده در برابرش کاندید نبود براي دور سوم بحیث رئیس جمهور تعین شد.

ناظران بین المللي جریان انتخابات را غیر عادلانه خوانده و گفتند که اقایف با استفاده از قدرتش انتخابات را به نفع خود چرخانیده است .

د کرنې او مالداري ...

تخمونو د برابرولو د کرنی د تحقیقاتو د برخی د ماهرانو لپاره د لنډی مودی روزنیزو برابرولو او له نویو تحقیقاتی سامان الاتو سره د هغوی د بلدولو او شون د ونو د بیا احیا کولو په لاره کی د خپل هیواد تیاری څرګند کړ.

وروسته د کرنی او مالداری محترم وزیر د دوست هیواد پاکستان د همکاریو له امله مننه وکړه .

په دی کتنه کی په کابل کی د پاکستان د اسلامی جمهوریت د سفارت مرستیال محترم ضیا د کرنی د برخی ماهر محترم داکتر عثمان او ددغه سفارت څو تنه نور کار پوهان او د کرنی د تحقیقاتو لوی رئیس محترم مولوی عبدالغفور هم حاضر و .

سوریې په نورو...

سولی یو هر اړخیز ترون لاسلیک نشی عربی هیوادونه دی له صهیونیستی رژیم سره خپلی سیاسی اړیکی وشلوی.

د خبری منابعو د خبر له مخی په دی کنفرانس کی د فلسطینیانو د خپلواکی اداری د پلان وزیر نبیل هم غوښتنه کړیده چی د فلسطین له خلکو سره دی زیاتی مالی مرستی وشی.

د امریکا فضایي...

وه پرون د غرمی په شاوخوا کی د امریکا د فلوریدا په ایالت کی د کیپ کانورال په فضایی مرکز کی په ځمکه کیني.

په دی بیړی کی پنځه تنه کازمیکی پیلوټان سپاره دی او د خپل ۱۱ ورځنی ماموریت په بهیر کی بی په نړیوال فضایی تم ځای کی د لمر د انرژی د جذب دوه ستری صفحی یا هنداری لګولی دی.

دغه هنداری د لمر روښنایی ځانته جذبوی او له هغی څخه به په نړیواله فضایی دستګاه کی د تحقیقاتی ازمایښتونو د بریښنا انرژی د تامینولو لپاره کار واخیستل شی د نړیوالی فضایی دستګاه تحقیقاتی ازمایښت ځای به په راتلونکی میاشت کی پرانستل شی.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

قضات محاکم باید در اجراات شان از ...

از نګاه علم و عفت داراي لیاقت و اهلیت قضا باشد طلب کردن قضا بالاي وي فرض است و اگر او از وظیفه قضا ابا ورزید و در نتیجه آن یك شخص جاهل و یا فاسق به وظیفه قضا مقرر شود آن عالم که وظیفه قضا را طلب نکرده گنهکار میشود بناً . علما کرام باید مسولیت بزرگ و خطیر شان را خوبتر درك و ادا نمایند.

محترم قاضي القضات افزودند : قضات محاکم باید در هر موضوع قبل از اصدار فیصله خویش غور کامل و بررسي دقیق نمایند اما وقتیکه دلایل و اسباب فیصله ،مهیا و آماده گردد قاضي محکمه باید حین اصدار فیصله مانند کوه آهنین مستحکم و مانند شمشیر تیز برنده و قاطع باشد. و هیچگاه باید در فیصله قاضي و لو که هر قدر فیصله یك موضوع بزرگ و کلان هم باشد تردد وجود نداشته باشد. بناً بر قضات لازم است که در اجراات شان همیشه از جرأت ، استواري و قاطعیت کار گرفته باشند.

محترم قاضي القضات علاوه نمودند : قضات محاکم باید با اصحاب دعاوي به پیشاني کشاده و به لهجه نرم و شیرین تکلم نمایند تا رعب و هیبت قضایي شان مانع اظهارات اصحاب دعاوي نشود و مردم بتوانند به سکون و اطمینان سختان خود را بصورت درست و کامل اظهار نمایند، و هم در صورتیکه دو جانب دعوي نزد قاضي حاضر شوند ,در حالیکه قاضي با یکي از طرفین معرفت داشته باشد باید قاضي از احوال شخصي و خانواده گي آن شخص پرسان نکند. بلکه قاضي باید درین حالت خود را طوري وانمود سازد که گویا هیچ معرفت با یکي از طرفین دعوي ندارد تا به جانب مقابل شخص معرفي کدام اشتباه و تشویش پیدا نشده و باعث صدمه و تکلیف برایش نگردد.

کمیسیون بررسي...

مولوي رحیم الدین معین وزارت تجارت و نماینده گان وزارتهاي مالیه ، فواید عامه، معادن و صنایع و تصدي حفظ و مراقبت مکروریانها دایر گردیده بود محترم معینان وزارت خانه هاي پلان و تجارت در مورد ترتیب بیلانسها ي ناتکمیل با رؤسا و سر محاسبین تصدیهاي حفظ و مراقبت مکروریانها آبرساني، تهیه و ارزاق ، مسلخ، مواد نفتي، تخمهاي اصلاح شده بذري و مطبعه امارتي صحبت نموده ایشانرا متوجه مسؤولیت هاي شان نمودند .

بعداً ایشان از شعبات حسابي تصدیهاي متذکره دیدن نموده و توجه بیشتر آنها را در جهت خدمت بیشتر بوطن و مردم مبذول داشتند.

موسسه لجنه ...

مواد خوراکي متذکره که شامل برنج، روغن، بوره و لوبیا بوده که به مناسبت ماه مبارك رمضان براي چهارده هزار فامیل مستحق در شهر کابل تزیع گردیده است .

د جنوبي کوریا

جنوبی کوریا د دواړو هیوادونو د پخلاینی او جوړجاړی لپاره د هلو ځلو په لاره کی د کار په خاطر ده ته ورکړ شویده . د بی بی سی راډیو د خبر له مخی کیم دای جونګ ۷۵ کلن دی او د هغی ویښا په ترڅ کی بی چی د جایزی د تر لاسه کولو له امله وکړه وویل:د دواړو کوریا ګانو د یووالی لپاره به زیاتی هلی ځلی وکړی.

د کوریا تاپو وزمه د ۱۹۵۰ میلادی کال په لومړیو وختو کی د کورنی جګړی په پای کی په دوو هیوادونو شمالی او جنوبی کوریا وویشل شوه .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press